## حقيقت پاڼه

# د نژادي تبعيض قانون لاندې شکايت کول

### د نژادي تبعيض قانون څه شي دي؟

د نژادي تبعيض قانون 1975 (Cth) (the RDA) ستاسو د نسل، رنګ، مليت يا توکميز اصليت او يا د کډوالي حيثيت له امله له تاسو سره غير عادلانه چلند کول د قانون خلاف بولي.

همدا رنګه دا قانون توکميز نفرت د قانون خلاف ګڼي.

### دا قانون کله کاريدلي شي؟

تاسو کولي شي د عام ژوند په ډيرو برخو کي د عادلانه چلند تر لاسه کولو لپاره RDA وکاروي:

- **دنده** – د دندې تر لاسه کول، د يوي دندې شرايط او مقررات، روزنه، ترفيع، له دندې ګوښه کيدل.
- **تعليم –** په خصوصي يا عامه ښوونځي، کالج يا پوهنتون کي شاملول يا زده کړه.
- **هستوګنځاي –** د کور يا اپارتمان کرايه کول يا پيرودل.
- **د خدماتو تر لاسه کول او کارول** – لکه بانکداري يا بيمه، د دولتي څانګو لخوا چمتو شوي خدمات، ترانسپورت يا مخابراتي خدمتونه، مسلکي خدمات لکه وکيلان، ډاکټران يا د کسبه کار، د رستورانتونو لخوا چمتو شوي خدمات، مغازي او د تفريح ځايونه.
- **عامه ځايونو ته لاسرسي –** لکه پارکونه، د حکومت دفترونه، رستورانتونه، هوټلونه او د پيريدو ځايونه.

### توکميز تبعيض څه شي دي؟

توکميز تبعيض هغه وخت پيښيږي کله چي يو شخص د بل وګړي په پرتله په ورته حالت کي د هغه د نژاد، رنګ، اصل، ملي يا توکميز اصل يا د کډوالۍ حيثيت له امله نا مناسب سلوک وشي. د مثال په توګه، دا به "مستقيم تبعيض" وي که چيرې د املاکو اجنټ يو شخص ته د کور کرايه کولو څخه ډډه وکړي ځکه چي دا د ځانګړي توکميز شاليد يا پوټکي رنګ څخه دي.

توکميز تبعيض داسي هم پيښيږي کله چي يو قانون يا پاليسي د هرچا لپاره يو شان وي مګر د يو ځانګړي قوم، رنګ، اصليت، ملي يا توکميز اصل يا کډوالۍ حيثيت ډلو باندي غير عادلانه اغيزه ولري. دې ته "غير مستقيم تبعيض" ويل کيږي. د مثال په توګه، دا ممکن غير مستقيم تبعيض وي که چيرې يو شرکت ووايي چي کارکوونکي بايد په کار کي خولۍ يا نور د سر جامي په سر نکړي، او دا به د دې احتمال ولري چي ځيني توکميز يا قومي شاليد لرونکي خلکو باندې به غير عادلانه اغيزه ولري.

### توکميز نفرت څه شي دي؟

دا د قانون خلاف دي چي د خلکو په انظار کي د يوه قوم، رنګ، ملي يا توکميز اصل پراساس يو څه ترسره کړي چي **احتمال د سپکاوی، شرميدو او يا ويرول** وي.

د توکميز نفرت څخه بيلګي کيداي شي شامل وي:

- په انترنت کي تحقیرونکی توکي په ګدون د بریښنايي فاروم، بلاګونه، د ټولنيزو شبکو ساېټونه او د ویدیو د شریکولو سایتونه وی
- توهینونکي نظرونه او انځورونه په ورځپانو، مجلو او پانو کی
- توهینونکي وینا په عامو جلسو کي
- په عامه ځاي کي ناوړه څرګندوني، لکه یوه مغازه، د ډندي ځاي، پارک، په ملي بسونو او ښوونځي کي
- ناوړه څرګندوني په سپورتي مراسمو کي د لوبغاړو، لیدونکیو، روزونکیو او چارواکو لخوا.

## کله د توکم پر بنسټ توهینونکي چلند د قانون خلاف ندي؟

د RDA موخه دا ده چي په آزاده توګه د خبرو کولو حق ("د بیان آزادي") او د توکمیز نفرت څخه پرته د ازاد ژوند کولو حق او توازن وساتي. RDA وايي لاندې شیان د قانون خلاف ندي که دوی په "منطقي او ښه باور" سره ترسره شي:

- **هنری کار یا هنر نمايي** – د مثال په توګه، یوه لوبه چي د توکمیز توهینونکي چلند د یو کرکتر لخوا څرګند شي.
- **یو بیان، خپرونه، بحث او مباحثه د ریښتیني علمي یا ساینسي اهدافو لپاره رامینځته شوي وي** – د مثال په توګه، د عامه پالیسي په اړه بحث کول لکه کډوالي، کثیرالکتوره او د یوه ځانګړی ډلو لپاره ځانګړي اقدامات
- **د عامه ګټو په اړه سم او کره راپور جوړول** – د مثال په توګه، د توکمیز بریدونو په اړه یو مناسب راپور په ورځپانه کي.
- **منصفانه نظر ورکول** – که دا نظر د یو کس ریښتیني باور څرګندوي.

## زه څه کولي شم که چیري زه د توکمیز تبعیض نفرت تجربه کړم؟

تاسو ممکن په مستقیم ډول په دي هکله د هغه شخص یا اشخاصو سره خبري وکړي.

که چیری دا مسله حل نشي، یا تاسي د دي په کولو د ارامي احساس نکوي، تاسی کولي شي د استرالیا د بشري حقوقو کمیسیون ته شکایت وکړي. همدا راز که تاسي وغواړی یو کس لکه وکیل، ملاتړي او یا د سوداګری اتحادیه ستاسي په استازیتوب شکایت کولي شي.

کمیسیون ته د شکایت کولو لپاره هیڅ لګښت نشته دي.

ستاسو شکایت باید په لیکلو کي وي. کمیسیون د شکایت فورمه لري چه تاسي یی ډکولي شي او مونږ ته یی پست یا فکس او یا هم انلاین خپل شکایت ثبت کړي. که تاسي نشي کولي خپل شکایت ولیکي، موږ کولي شو تاسو سره مرسته وکړو.

ستاسو د شکایت د اعتبار لپاره باید د منازعي پیښي هغه چي تاسو یې په اړه شکایت کول غواړئ غیرقانوني تبعیض دي، تاسو باید د خپلو تورونو په اړه کافي توضیحات ورکړئ پدې کي شامل دي چي څه پیښ شوي، کله او چیرې پیښ شوي او څوک پکي دخیل و.

شکایت په هره ژبه کي کیدي شي. که تاسي کتبي او یا شفاهي ترجمان ته اړتیا لري، موږ دا تنظیم کولي شو.

## زه نور مالومات چیرته لاس ته راوړي شم؟

د استرالیا د بشري حقوقو کمیسیون د اړیکو جزئیات په لاندي ډول دي:

**تیلفون**

د ملی مالوماتو خدمت: 419 656 1300 او یا 9888 9284 (02)

TTY: 241 620 1800 (وړیا)

فکس: 9611 9284 (02)

پوست:

GPO Box 5218
Sydney NSW 2001

انلاین

بریښنالیک: infoservice@humanrights.gov.au

ویبپاڼه: www.humanrights.gov.au

تاسو کولي شي انلاین شکایت وکړي

www.humanrights.gov.au/complaints_information/online_form/index.html.

که کوڼ او یا د اوریدو ستونزه لري تاسو کولي شي د TTY له لاری په 241 620 1800 اړیکه ونیسي. که تاسی د Auslan ترجمان ته اړتیا لري، مونږ دا تنظیم کولي شو.

که تاسی ړانده یاست یا د لید ضعف لري، موږ کولي شو په بله بنه تاسو ته مالومات چمتو کړو.

## د توکمیزو نفرتونو شکایتونو لپاره د اړیکو نور ځایونه

که تاسو د رسنیو د توهینونکیو کیسو، خپرونو یا آنلاین مضامینو په اړه اندیښمن یاست، نو تاسو کولی شئ د آسترالیا د مخابراتو او میدیا اداري (ACMA)، د اعلاناتو لپاره د اعلاناتو معیارونو بورډ؛ یا د ورځپا نو لپاره د آسټرالیا د پریس کونسل ته شکایت وکړي. تاسو کولی شئ د رسنیو د سازمان مدیر یا رییس ته هم شکایت وکړئ.

که تاسو د ګاونډیو لخوا د ناوړه چلند په اړه اندیښمن یاست، تاسو کولی شئ د ستونزې حل کولو ته د ټولنې قضاوت مرکز، یا د کور جوړوني ریاست که چیرې تاسو په عامه کورونو کې ژوند کوئ ورته مراجعه وکړئ.

**که تاسو د تاوتریخوالي یا تاوتریخوالي سره ګواښ شوي یاست پولیس ته لاړشئ.**

## عمومي حقوقي مشوره

که تاسو د شکایت کولو په اړه فکر کوئ، کیداي شی تاسي قانوني مشوره ترلاسه کړئ یا د خپل سوداګرۍ اتحادیې سره اړیکه ونیسئ. د ټولنې قانوني خدمات کولی شي د تبعیض او ځورونې په اړه وړیا مشورې چمتو کړي. ستاسو د نږدې حقوقي مرکز لپاره د اړیکو توضیحات په www.naclc.org.au/directory کې موندل کیدی شي.

**د عدم مسئوولیت یادونه: پدې حقایق پاڼه کې معلومات یوازې د لارښودنې لپاره په نظر کې نیول شوی دي. دا د قانوني مشورې بدیل ندی.**

April 2020